پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۰۹/۰٦/۲۵م

# دایران دولت اساسی تشکیلاتواودندو ته لنډه کتنه

د روان ۲۰۰۹ کال دجون میاشتی د اولسمشری تر لسمي دوری ټولټانو ورسته چی پایلې یی داوسنې جمهور رئیس محمود احمدی نژاد په ګټه اعلان شوی , دمخالفو ( اپوزیسیون ) کاندیدانو دپلویانو لخوا اعتراضی لاریونونه پیل او په تاوتریخوالې واوښتل . دلاریون کوونکو او امنیتي ټولګیو تر منځ په شخړو کی تر اوسه پوری نژدی شل تنه وژل شوی , په لسګونه ټپیان او په سلګونه زندان ته وغورځول شول . دی کار په نړیوالو رسنیو کی داعتراضه ډک غبرګونونه رامنځته کړل .

ددی لنډی لیکنې نه زما موخه دانتخاباتو پرزنوالې یا نارنوالې اویاهم دپایلوپر کره والې یاناکره والې باندی درنا اچونه او دنظر څرګندونه نده . ډیری لوستونکې وطنوال چی پدی اړه رسنی تعقیبوی , دایران دولت په پیچلو داخلې اساسی تشکیلاتو او دواکمنو څانګو په دندو او ځانګړتیاوو باندی که څه هم زموږ سره داوږده سرحد لرونکی ګاونډی دی , پوره بلد ندی . پدی خاطر غواړم لاندی لنډ معلومات می دګرانو لوستونکوسره شیریک کړم :

کله چی په افغانستان کی په ۱۳۷۵ کال دثور په میاشت دپاریدلو افسرانو پلاس دولتي واکمنۍ بدلون وموند , په ایران کی هم چی له پخوا لا اوبه ګرمی وی , ددی اوښتون تر تاثیر لاندی خلګو دشاهی سیکولاردولت پرضد په اغتشاش او شخړو لاس پوری او شاه یی له وطنه و وتلو ته اړ ایست . دافغانستان نه خلاف دلته دچارو واک په فرانسه کی میشت دایت الله روح الله خمینی چی یو بنسټپال روحانی سړې وو او دشاه تر وتلو وروسته هیوادته راوستل شو , پلاس ورغی او دایران اسلامی دولت بنسټ یی کښیښود . دا دولت اوس دیوی مذهبی سیاسی اداری لخوا چی ځانته خاص تشکیلات لری , اداره کیږی . دایران داداری شکل او اړوندی څانګی دنورو اسلامی دولتونو سره هم ډیر توپیر لری . ددغو اداره کوونکو څانګو جوړښت اودندو ته په لاندی کرښو کی پام اړوم :

## ۱ - جمهور رئیس :

دامقام د واک له مخی دویمه کړی ګڼل کیږی . جمهور رئیس دڅلورو کالو دپاره د ټولټاکنو دلاری انتخاب او داساسی قانون سره سم یوتن یوازی دوی دوری پر دی چوکۍ باندی ټاکل کیدلای شی . دی داجرائیه قوی مشر او داساسی قانون تفسیر هم دده دنده ده چی دکوم بل هیواد په هکله دجمهور رئیس په دندو کی ددغه کار صلاحیت زما تر سترګو شوې ندی او راته دحیرانتیاوړ ښکاری . دایران اسلامی دولت جمهور رئیس په عمل کی د روحانیت لوړ واک دتمثل یو ځانګړی ارګان جوړوی . د اولسمشری په ټولټاکنو کی کاندیدان هغه وخت په سیالیو د دریدلو حق تر لاسه کوی چی د ( شورای نګهبان ) لخوایی وړتیا تائید شی او لدی نه پرته هیڅوک ځان کاندید کولای نشی .

## ۲ - حکومت :

دلته هم حکومت دنوروهیوادونو پشان د دولت داجرائیو چارو اساسی کړی ده چی غړې یی دجمهور رئیس لخوا نومول کیږی او دپارلمان څخه دباور ترلاسه کولو وروسته په کار ګمارل کیږی .

## ۳ - پارلمان :

دایران د پارلمان ( مجلس ) ټول غړې ۲۹۰ تنه دی او دخلګو لخوا دمستقیمو رایو ورکولو له مخی د څلورو کالو پاره ټاکل کیږی .پارلمان دتقنینی ارګان په توګه دقوانینو د وړاندیز او تصویب دنده لری . ددی ارګان لخوا ټول تصویب شوی قوانین هغه وخت نافذ ګڼل کیږی چی دشورای نګهبان لخوا دتائید وړ وګرځی . دپارلمان په ټاکنو کی دکاندیدانو وړتیا هم باید دشورای نګهبان لخوا تائید او دستر روحانی مشر لخوا ومنل شی . پارلمان کولای شی خپل غړی او جمهور رئیس تر عدلې تعقیب لاندی راولې .

## ٤ - شورای خبره ګان ( دپوهانو جرګه ) :

ددی شورا له ډیرو سترو دندو څخه یوه هم دهیواد د ستر روحانی مشر ټاکل , له دندی لیری کول او دهغه پراجراآو باندی څارنه ده . دپوهانو جرګه ۸٦ غړې لری چی دخلګو لخوا په مستقیمو ټاکنو کی د۸ کالو دپاره غوره کیږی . یوازی مذهبی روحانیون کولای شی دی شورا ته ځانونه کاندید او دشورای نګهبان له تائید وروسته سیالیو ته و درېږی . ددی شورا تر ټولو مهم غړی داګړی ښاغلی اکبر هاشمی رفسنجانی دی چی په روانوشخړو کی داپوزیسیون ملاتړ کوی .

## ٥ - شورای نګهبان ( دڅارنی جرګه ) :

داجرګه دهیواد ترټولو اغیزمن ارګان دی چی ټولټال ۱۲ غړې لری . دغړو نیمه برخه ( ٦ تنه ) یی د دینی علومو پوهان دی چی دهیواد ستر روحانی مشر یی په ګوته کوی اوپاته ٦ تنه یی دحقوقو پوهان چی دقضا لخوا ټاکل کیږی . دشورا ټول غړی دپارلمان څخه دباور رایی اخیستنی وروسته وظیفوی واک پلاس راوړی او په کارپیل


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

کی . دنومړې شورا دواک موده شپږ کاله او بنسټیزه دنده یې پر ټولوانتخاباتو باندی څارنه ده . داشورا همدارنګه هغه قوانین منظور او تفسیروی چی دپارلمان لخوا تصویب شوی وی .

### ٦ - دهیوادستر روحانی مشر :

لکه څنګه چی یاده شوه دا شخص دپوهانو دجرګی لخوا په دنده ګمارل کیږی . دستر روحانی مشراصلی دندی د قضایی قوی د ریئس ټاکل , دپوهانو دجرګی دنیمی برخی غړو نومول , د وسلوالو ځواکونو دقوماندانانو ټاکل , د دولتی راډیو او تلویزیون د ریئس ټاکل دی , دامنیت شورا او دمنځګړیتوب شورا ګمارل دی . لدی نه پرته دجمعی دلمانځه امامت کول او ترټاکنو وروسته د جمهور ریئس دصلاحیت تائیدول هم ددغه روحانی مشر په دندو کی راځی . دایران دولت اوسنۍ ستر روحانی مشر ایت الله علی خامنه ای دی چی دژوندترپایه پر دغی دندی باندی ګمارل شوی دی . په روانو شخړو کی نوموړۍ دمحموداحمدی نژاد ملاتړ کوی چی داپوزیسیون په وینا یی په ټولټاکنو کی د درغلیو له مخی درایو ډیره برخه دځان کړیده .

دایران دولت چی دافغانانو یو نامهربان ګاونډی دی اوتل یی دهغوی په بده ورځ دخوښی اتنونه کړی دی , دخپل اداری واک په پیچلی سیستم کی اوس ورنه لاره ورکه او یوازی قهریه قوه ده چی دشخړو برخلیک به وټاکی .

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً  به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب  خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.